مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکونکې: Brüder grimm
ژباړه: ګل اریوبزی

۲۰۲۲/۰۶/۰۷

# سپین مار

## د کوچنیانو له پاره لنډه کیسه

د اوس نه ډیر ډیر کلونه پخوا یوه باد شا باد شاهي کوله. دا باد شا دومره هوښيار و چې په هوښيار تیا په ټول هیواد کې مشهور و .دی له هرڅه نه خبرو او هیڅ شی ترې پټ نه پا تې کیده. داسې ښکاریده چې ګوندې د ټولو پټو شیانو راز هم د باد په واسطه ده ته ورسیږي .باد شاه یو عجسبه عادت درلود. کله چې به ډوډۍ وخوړل شوه او بل هیڅوک به په کوټه کې پاتې نه شول اویوازې به و، نو په دې وخت کې به یوه باوري نوکر یوه کاسه ور ته راوړه. دکاسې سر پټ و. هیڅوک په دې نه یوهیدل چې په کاسه کې به څه وي. د پاچا دا باوري نوکر هم په دې نه پوهیده .څکه چې باد شا یوازې هغه وخت د کا سې سرپوښ پورته کاوه او ډوډۍ یې ترې خوړه چې هیڅوک به نه و. په دې ډول ډیر وخت تیر شو .نوکر دې کاسې ته ډ یر په تشویش کې و. د ورځونه یوه ورځ، کله چې کا یې بیرته وړ، تشویش دومره په زورشو چې نور نه شو تم کیدی، هغه یې خپلې کوټې ته یوړ او ور یې ورو په ځان پسې پورې کړه. د کاسې سر پوښ یې پورته کړ او ویې لید چې سپین مار پکې پروت دی. په لومړي نظر یې د مار څکلو ته چندان زړه ونه شو، بیا یې هم یوه ټوټه ترې رابیله کړه او خولې ته یې واچوله. لا یې سمه ژبې ته نه رسید لې، چې بې سارې نرې او حواړه اوازونه یې دکړکۍ له لارې غوږو ته ورسیدل. دی ورغی او غوږ ورته ونیو، که ګورې چې چوغکې دی او یوې بلې ته په دې باره کې خبرې کوې چې په پټیو اوځنګل کې یې څه ولیدل .اوس نو دمار غوښې په خوړلو سره کولی شې چې د ژویو په خبرو پوه شې .دخدا کارونه وو چې په وخت کې دباد شا تر ټولو ښکلې ګوته ورکه شوه. دا چې د باد شاه باوري نوکر هرى خوا ازاد ګرځیدی شو، نو دا ګمان په وشو چې دا ګوته به ده پټه کړې وي .
باد شا هغه ځان ته را وغوښت، ویې شکنځه اوګواښ یې، ورته وکړ، چې که ترسبا پورې دګوتې غل پیدا نه کړې، نو دی به تورن وګڼل شي. ده که هر څومره د بې ګناهی چیغې هم وکړې، څه ګټه یې ونه کړه او هیڅ ډول سند او ثبوت هم مرسته ور سره ونه کړه .ډیر نارامه وه، په ډار انګړ ته ښکته شو او په دې چرت کې و چې په څه ډول به ځان له دې جنجال نه خلاس کړې .په دې شیبه کې یې دوې مر غاوې ولیدې چې په روانو اوبو کې دیوبل تر څنګ ارامې ناستې وې، دمه یې کوله، په مښوکو یې خپلې ښکې پاکولې او په خپلو کې یې یوې بلې ته دزړه رازونه بیانوه .
نوکر ود رید اوغوږ یې ورته ونیو .دوی ویل چې نن په کومو ځای کې وګرځیدې او چرته یې ښه خوراکې شیان پیدا کړل .په دې وخت کې یوې مرغاوې په یو څه خوابښینۍ سره وویل چې.« زما په ؛یډه کې یو دروند شی پروت دی . ما یوه ګوته چې د ملکې دکړکې لاندې پرته وه د نورو خوراکې شیانو سره دبیړني خوراک په وخت کې تیره کړې ده .نوکر ور ټوپ کړ، مرغابې یې له غاړې ونیول، پخلنځې ته یې یوړه او اشپز ته وول چې:« دا مرغابې ښه حربه ده، حلاله یې کړه «.اشپز وویل چې:« ښه.» بیایې مرغابې په لاسو کې پورته کړه ترڅو چې وزن یې ځان ته مالوم کړېو ورپسې یې وویل چې »:دې په خوراکې تنبلې نه ده کړې اوله پخوا ورته په تمه دوم چې لومړۍ درجه کباب ترې وړ کړم.» سر یې ترې غوڅ کړ او چې دګیډې منځپانګه یې را وایستله، دملکې کوته یې هم پکې پیدا کړه. اوس دنو نوکر ته اسانه شوه چې بادشا ته ځپله بې ګناهي ثابته کړې. باد شاه غوښتل چې په نوکر باندې دکړې بدګمانې تلافې وکړې او ورته ویې ویل چې ته ته دبخښنې دغوښتلو اجازه لرې او وعده یې ورسره وکړه چې په خپل دربار کې به تر ټولوړ مقام، چې نوکر یې غواړې، ده ته ور کړې .
نوکر له نور هر څه نه تیر شو، یوازې یې د یوه آس او دسفر له پاره دیو څو پیسو غوښتنه وکړه .څکه ده غوښتل چې دنیا وګورې او یوه موده پکې وګرځې اوراوګرځې. کله چې د ده غوښتنه تر سره شوه، نو په سفر روان شو. یوه ورځ یوه ډنډ ته ورسید ا هلته یې در مایان ولیدل چې په یوه تونلګې کې بند پا تې دي او په اوبو پورې هڅه کوې. که څه هم ویل کیږې چې مایا ګونګ دي، خو دا نوکر دهغوې په ستوخې پوهیده چې دمرګ سره مخامخ دي. دې چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ډیر مهربان سړی و، دآس نه راکوز ښو، دری واړه مایلن یې دتونل نه ازاد کړل او اوبو ته یې راوړل. مایان په اوبو کې په لوبواو لامبو شول، له اوبو یې سرونه را پورته کړل او سړي ته غږ کړچې:« داچې موږ دې ازاد کړو، دا نیکي به دې هیکله هیر نه کړواو هرو هرو به په نیکۍ تلافپ کړو.» ده خپل سفر ته دوام ور کړ. دیو څه مزل نه وروسته دآس تر پښو لاندې ریګ نه یو اواز تر غوږ شو. داوز په اوریده سره پوه چې دا دمیږیو دپاچا شکایت دی چې وایي »:کاشکې چې انسانانو او دهغوی وحشي ژویو موږ ارام پریښودلي وای. دا احمق آس زما ولس په ډیره بې رحمۍ تر خپلو درنده پښ، لاندې کوي اووژنې یې،» لاروي آس دریګو نه دتیږو خواته را وګرځا وه او دمیږیو پاچل ور ناره کړه چې:« موږ به ستا دا نیکي هیره نه کړه او په بدل کې به نیکې درسره وکړو.» اوس نو د ده لاړ په یوه ځنګل ور برابره شوه او هلته یې دکرغانو یو پلار او یوه مور ولیدل چې په ځاله کې ولاړ دي او خپل بچیان یو په بل پسې له ځالې په مځکه غور ځوي او ورته وایي چې »:له دې دځایه ورک شی، تاسې جنایت کارو غلو نور موږ تاسې نه شو مړولي، پوره لوی شوي یاست اوباید ځانو ته پخپله خوراک پیدا کړي «.د کارغانو دا بې وزله بچیان په مځکه پراته و، وزرې یې خوځولې اوسم الوتلی نه شول اوچیغې یې وهلې چې »:موږ بې وزله او بې وسه کوچنیان الوتلی نه شو اوځان ته خور هم پیدا کولی نه شو، بله چاره نه لرو بې له دې چې له لوږې مړه شو «.ځوان لړ وی دآس نه کوز شو، هغه یې په چاړه حلا کړاو دکارغانو بچیانو ته یې پریښود. دوی آس ته را وښوییدل، دومره وخوړ تر څو چې ښه ماړه شول. بیا یې لار وې ته وویل چې:« مږ ستا نیکي هیڅ نه هیروو او د دې نیکۍ ځواب به په نیکۍ درکوو «.

لاروی اوس مجبورشو چې دخپلو پښو نه کارواخلي. داوږده مزل نه ورسته یوه ښار ته و رسید. په ښار کې ډیر شور ماشور او په کوڅو کې یې ډیر بیربار و .یو په آس سپورراغي او ځان یې معرفي کړ. دپاچا لور دمیره په لټه کې وه .هر کاند ید مجبور و چې ډیره سخته چاره تر سره کړي او که بخت یې بد وي او دا چاره یې تر سره نه ژوند له لاسه ور کوي. ډیرو ځوانانو ځا نونه واز مویل، بخت یط نه درلود پاتې راغلل او ژوند یې له لاسه ور کړ. ځوان لار وي چې شهزاد ګۍ ولیده، دومره ډیره ښکلې وه چې داټول خطرونه یې ترې هیر کړل، دپادشا په مخکې ودرید او ځان یې کاندید وښود .

سم دلاسه یې د دریاب په لور روان او کله چېدریاب ته ورسیدل یوه ګو ته د ده په مخکې دریاب ته واچوله او پاچا ورته وویل چې اوس یې د دریاب له تل څخه راوباسه او زیاته یې کړه چې »:که بې ګوتې را پورته شوې نو بیرته ور ټیله کیږې اودا کار تر هغه وخت پورې تکراریږي، تر څو چې هلته په اوبو کې ساه له لاسه ور کړې «.ټول د دې ښکلي ځوان په حال خپه وو او په د دریاب په غاړه یې ګوښی پریښود. دی هلته ولاړ و او فکر یې ګاوه چې څه باید وکړي. په دې شیبه کې یې و لیدل چې دري مایان د ده په لور لامبو وهي او د ړمنځني مایي په خوله یو صد ف دی. دا نور څه نه وو، دا هغه درې مایا وو، چې د ده په مرسته ژوندي پا تې شوې وو .منځني مایي په خوله کې صد ف د دریاب په غاړه دځوان په پښو کې واچوه. ده چې واخیست، خلاص یې کړاو ویې لیده چې ګوته پکې وه .په ډیره خوشالي او هوس یې ګوته بادشا ته ورووړه او په تمه یې وه چې اوس به پاچا ده ته تر ټولو په زړه پورې انعام ورکړي.خو کله چېدا په ځان مغروره شهزادګي په دې پوشوه چې دی یې په نسب سیال نه دی، نو ویې نه مانه اوترې ویې غوښتل چې یو بل شرط دې هم پوره کړي. دا په خپله باغ ته ور کښته شوه اولس بوجي ایږدن یې دوښو په متځ کې وشنل او ویې ویل چې:« سبا تر لمر ختو وړاندې دایږدن دانه په دانه راټول کړي او یوه دانه هم باید پا تې نه شي «.ځوان په پاغ کې کیناست او په دې سوچ کې شو چې دادنده په ځنګه سرته ورسوي. کومه ړلار یې پیدا نه کړه، خپه په ځای ناست پاتې شو او په دې انتظار کې و چې دشپې به تیریدو او دسهار دپیل سره به یې دمرګ په لور روان کړي، خو کله چې د لمر لومړی وړانګې په باغ را پریوتې، ویې لیدل چې لس دایږد نو نه ډ کې بوجۍ ځنګ په ځنګ په باغ کې ولاړي دي او ایږد نو یوه دانه هم دباندې پاتې نه ده .د میږیو پاچا دزرګونو اوزرګونو میږیانوسره شپه په شپه را ورسیدل اودې احسان منونکوزویو په پرله پسې او نه ستو مانیدونکو هڅو ټول ایږدن په بوجیو کې راټول کړي وو .شهزاد ګۍ په خپله باغ ته راکوزه شوه اوپه حیرانتا یې ولید چې دې ځوان هغه کار تر سره کړی دې چې ورکړ شوی و.سره له دې هم شهزادګۍ مغروره پاتې شو او ویې ویل چې:« که څه هم ده دواړه ورسپارل شوې چارې سرته دذورسولې، خو بیاهم تر هغه وخت پورې زما میړه کیدای نه شي، ترحو چې د ژوند مڼه راته را نه وړي «.دا ځوان په دې هم نه پوهیده چې د ژوند مڼه په چرته ویاو تمه یې نه درلوده چې هغه به پیدا کړی شي سره له دې هم روان شو اونیت یې وکړ چې تر هغو به ور پسې ګرځي تر څو چې په پښو تلی شي .ده درې پاچاهۍ ولټولې او ورپسې یوه ځنګل ته ورسیده او هلته تر یوې ونې لاندې کیناست، غوښتل یې چې ویده شي. په دې وخت کې یط دونو په شاخو کې څه اواز تر غوږ.و شو او یوه طلایي مڼه یې په لاس کې ولویده. ورسره سم درې کارغان را ولوتل، د ده په ورنو کینا ستل او ویې ویل چې »:موږ هغه درې ګوچنې کارغان یو چې تا د لوږې نه وساتلو. کله چې لوی شو، ومو ورید ل چې ته طلایي مڼه لټوې. موږ د دراب په سر ولوتو او د دنیا هغه بل سرته ورسید و. هلته دژوند مڼه ملاړه ده او تاته مو دا یوه طلایي مڼه تر نه راوړه. دځوان زړه د خوشالۍ نه ډک شو ، دکور په لور روان شو او ښکلې شهزادګۍ ته یې طلایي مڼه ورکړه. شهزادګۍ ته بله بهانه پا تې نه شوه .دواړه په ګډه مڼه وخوړله او ورسره سم دشهزادګۍ زړه دځوان سره دمینې نه ډک شو اودواړو اوږد، له مینې ډک ژوند وکړ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ